بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ **سر یال نمبر: 119**

یووالی، ایمان، انضباط

دملت غږ

# د ترهګرۍ پر وړاندې د ملي امنيت د کميټې اعلاميه د ټي ټي پي قيادت په ويره کې دے

د ملي امنيت د کميټې د وروستۍ غونډې او پراخو عملياتو خبرونو د تحريک طالبان پاکستان په ليکو کې ويره پيدا کړې او مجبوره شوې چې د دروغو بيانونه ته مخه کړي، په داسې حال کې چې اصلي حقايق دا دي:

- د قبايلي ضلعو له انضمام وروسته د دې سيمو بيا آبادول د ايالت لپاره يوه مهمه مسله ده۔ دولتي ماشينري د دې هدف په لور کار کوي په داسې حال کې چې د ټولو وسايلو په کارولو سره د دې سيمو پرمختګ او سوکالي خورا مهمه ده، خو په دے لړ کې تحريک طالبان پاکستان يو لوی خنډ دی۔
- په قبايلي ضلعو کې د لويو عملياتو او د ممکنه بې ځايه کيدو د غلطو خبرونو په خپرولو سره د رياست مخالف عناصر ناکامه هڅه کوي چې خلک د رياست په ضد راوپاروي او د رياستي ادارو تر منځ ټکر رامنځته کړي۔
- په اوسني سياسي پس منظر کې، ټي ټي پي هڅه کوي چې د دې بيانونو له لارې ځان د يو سياسي ګوند په توګه وړاندې کړي، په حقيقت کې دا د جمهوري نظام خلاف دی۔
- دا د دولت حق دی چې کومه ډله ومني او که نه، اوس دا د خوارج پورې اړه لري چې تسليم شي او د پاکستان اساسي قانون ومني او له ځانه وپوښتي چې د اوربند د ختمولو اقدام چا کړی؟
- ترهګر د عملياتو پر ضد بيانيه ځکه خپروي چې غواړي د عملياتو پر ځای د خبرو له لارې پاکستان ته ورشي۔

په دې ځرګندونو سره ټي ټي پي هڅه کوي چې حالات د خپل حق په ګټه کړي، په داسې حال کې چې غواړي د خلکو او امنيتي ادارو ترمنځ د بې باورۍ فضا رامنځته کړي۔ پاکستاني خلک د ټي ټي پي په اړه ښه پوهيږي او له هغه څخه سخت نفرت لري۔